د امیرِ اهلِ سُنَّت دامت برکاتهم العالیة د کتاب ”فیضانِ رمضان“ یو قسط

# داجتماعي اعتکاف
# 17 مَدَني سپرلي


پښتو

ښکاري پخپله ښکار شو!

تول خاندان مسلمان شو

د غیر اسلامي نظریاتو نه توبه

دا اعتکاف څه ته وائي!




شیخِ طریقت، اَمیرِ اَهلسُنّت، باني دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا اَبُو بِلال

مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

(دا مضمون د کتاب ”فيضانِ رمضان“ صفحه 409 تا 426 نه اخستے شوے دے.)

# د اجتماعي اعتکاف 17 مدني سپرلي

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د **اللّٰه** پاک آخري نبي **محمدِ** عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا چې په ما سل ځله درود شريف اولوستو، **اللّٰه** پاک د هغه د دواړو سترګو تر مينځه اوليکي چې دا د نِفاق او د دوزخ د وور نه آزاد دے او هغه به په ورځ د قيامت شهيدانو سره ساتي.(معجم اوسط، 252/5، حديث:7235)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿1﴾ ښکاري پخپله ښکار شو!

د جيکب آباد، سنده، پاکستان يو اسلامی ورور چې په کوم کور کښې پيدا شوے وو په هغې کښې د جَهالت تورے تيارے وې، صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته به ئې **مَعَاذَاللّٰه** بد رد وئيل ثواب ګڼـلو. هغه هُم په هغه ضَلالَت او ګُمراهئ کښې پوره پوره ښخښتے وو، د هغه د توبے سبب څه داسې جوړ شو چې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** مَدَني مرکز فيضانِ مدينه جيکب آباد کښې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (1426هـ- 2005ء) د آخرئ عَشَرے د **اِجتِماعي اِعتِکاف** ترکيب وو، د هغه د محلّے يو څو هلکان په اِعتِکاف کښې کښيناستل، د هغوئي د تنګولو د پاره هغه مَدَنـي مرکز فيضانِ مدينه ته راغلو، هلته د سُنَّتو ښودلو او زده کولو حلقے لګيدلې وې، هغه په دې انتظار کښيناستو چې ښنګه موقع په لاس راشي چې څه شرارت شروع کړم، په

دې کښې يو **عاشقِ رَسُول** خيرخواه هغه ته په ډيره مينه په حلقه کښې د کښيناستلو د پاره اُووئيل، د هغه د نرمئ او عاجزئ په وجه هغه انکار اونکړے شو او حلقه کښې کښيناستو او د مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي بيان ئې په غور سره اوريدل شروع کړو. د مُبَلِّغ په بيان کښې عجيبه اثر وو، د بيان مَدَنــي ګلونو په قلاره قلاره د هغه په زړه اثر کول شروع کړو. عاشِقانِ رَسُول ورته د باقي ورځو د اِعتِکاف دعوت ورکړو، هغه تيار شو او د اِعتِکاف بَرَکتونه حاصلولو کښې مشغول شو. هغه خو په ښکار پسې راغلے وو خو ''ښکاري په خپل دام کښې پخپله ګير شو''. د هغه د پاره اِعتِکاف بالکل يو نوے کار وو، د اِعتِکاف په دوران کښې هغه په خپله ګُمراهئ پوهه شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه د باطلو عَقائدو نه ئې توبه اوکړه، کَلِمۂ طَيِّبه ئې اولوستله او د دعوتِ اسلامي د اَهلِسُنَّت په کشتئ کښې سور شو او د مدينے په طرف روان شو، په مخ ئې د سُنَّت نښه ګيره مبارکه پريښودله او عِمامه شريفه ئې په سر کړه. د 63 ورځو مَدَنــي تربِيَّتي کورس ئې اوکړو او د دعوتِ اسلامي د تنظيمي ترکيب مطابق حلقه ذِمَّه دار جوړ شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه خپلې اِصلاح سره سره د نورو د اِصلاح کوشش کوونکے هُم جوړ شو. **اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت** دې هغه ته او مونږ ټولو ته دِيني ماحول کښې اِستِقامت رانصيب کړي او بے لاروته دې د حق او صداقت لاره اوښائي.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ختم ہو گی شرارت کی عادت چلو — مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
دور ہو گی گناہوں کی شامت چلو — مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشش ص640)

صَــلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿2﴾ ډير ځله ئې د خودکُشئ کوشش کړے وو

د تحصيل شُجاع آباد ضلع مُلتان يو اِسلامي ورور (چې نن صبا کراچئ کښې اوسيږي) **مَعَاذَاللّٰه** د مور و پلار ډير زيات ګُستاخه وو، په کِرکِټ او بليړد کولو کښې به ئې ورځې بربادولې او د

شپې به په وِډيو سينټرو کښې ناست وو. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې ئې مور و پلار سره ډيره زياته جګړه اوکړه تر دې چې په کور کښې ئې خيزونه هُم مات کړل! خپل د ګُناهونو ژوند نه ښخپله هم تنګ وو، ډير زيات جذباتي وو ځکه ئې **مَعَاذَالله ډير ځله د خُود کُشئ کوشش هُم کړے وو** خو اَلْحَمْدُلِله ناکامه شوے وو. د **الله پاک** په کرم ئې په زړه کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرئ عَشَره کښې د **اِعتِکاف** شوق پيدا شو، د کور خوا ته جُمات کښې ئې د اِعتِکاف اِراده وه چې يو اِسلامي ورور سره ئې مُلاقات اوشو. د هغوئي د **اِنفرادي کوشش** په نتيجه کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** کښې کيدونکي اِجتِماعي اِعتِکاف کښې عاشقان رسول سره **مُعتَکِف** شو. اَلْحَمْدُلِله د اِجتِماعي اِعتِکاف د بَرَکتونو به څه وائي! ګيره به ئې خرئيله او پينټ شرټ به ئې اغوستل، خو د تربِيَّتي حلقو، د سُنَّتو ډکو بيانونو او د عاشقانِ رَسُول د صُحبتونو په بَرَکت مَدَنـي رنګ کښې داسې رنګ شو چې سمدستي ئې ګيره پريښودله، د **عِمامے شريفي** تاج ئې په سر کړو او د اختر په شپه کور ته د تللو په ځائے سمدستي د سُنَّتو د تربِيَّت د درې ورځو مَدَني قَافِله کښې عاشقان رسول سره په سفر روان شو: هغوئي وائي چې قَسَم په خُدائے! دا زما د ژوند د ټولو نه ورومبے اختر وو چې ډير ښه تير شو. چې بيرته راغلو نو مور ته په ښپو پريوتو او دومره ئې اوژړل چې په سلګو شو او بيهوشه شو. چې زيات و کـم نيمه ګينټه پس په هوش کښې راغـے نو د کور ټول کسان ترينه چاپيره وو او په حيرانتيا سره ئې يو بل ته کتل چې دا په ده څه شوي دي. اَلْحَمْدُلِله په کور کښې ډير ښه حال شو. هغه ته تنظيمي طور د علاقائي مُشاورت د نګران جوړيدو او عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** کښې د 63 ورځو تربِيَّتي کورس کولو سعادت حاصل شو. او د 126 ورځو "اِمامَت کورس" کولو سلسله ئې هُم شروع کړه. **الله رَبُّ الْعِزَّت** دې هغه ته او مونږ ټولو ته اِستِقامت راکړي.

بگڑے اخلاق سارے سنور جائیں گے　　　مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

بس مزا کیا مزے کو مزے آئیں گے　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص641،640)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿3﴾ د اختر نه علاوه ئې كله هُم لمونځ نه وو كړے

د ميانوالي كالونۍ منګوپير روډ كراچۍ يو اِسلامي ورور د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شاميلدو نه مخكښې ډيرو "جينكو سره دوستانې" جوړې كړې وې، د ذِهن د ګندګۍ ئې دا حالت وو چې هره ورځ به ئې ګنده فلمونه كتل او زياته د حيرانتيا خبره دا ده چې هغه د اختر نه علاوه كله هُم لمونځ نه وو كړے او هغه ته بالكل دا هُم معلومه نه وه چې لمونځ څنګه كوي!!! د هغه د قِسمت ستورے اوځليدو او هغه ته د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** عالَمي مَدَني مركز **فيضانِ مدينه** كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشَرے **اِجتِماعي اِعتِكاف** نصيب شو، د فيضانِ مدينه د ديني ماحول به څه وائې، د هغه سترګې اوغړيدې، د غفلت پردے ترينه لرې شوې او د نيكو جذبه پكښې پيدا شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغه لمونځ زده كړو او د پينځه وخته لمونځ پابند جوړ شو، په دوه جُماتونو كښې ئې د **فيضانِ سُنَّت** درس شروع كړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه اِسلامي وروڼو هغه د يو جُمات د مُشاورت ذيلي نګران هُم جوړ كړو او يو ډير لوئے كرم پرې دا اوشو چې په خوب كښې ئې د جنابِ رِسالت مآب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار هُم اوكړو.

جسے چاہا جلوہ دکھا دیا، اُسے جامِ عشق پلا دیا　　جسے چاہا نیک بنا دیا، یہ مرے حبیب کی بات ہے
جسے چاہا اپنا بنا لیا، جسے چاہا در پہ بلا لیا　　یہ بڑے کرم کے ہیں فیصلے یہ بڑے نصیب کی بات ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د اِعتِكاف په بَرَكت ټول خاندان مسلمان شو

د ګليان (مهاراشټر، اَلهِند) ميمن مسجد کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** له طرفه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك (1426هـ 2005ء) کښې شوي **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې يو نوي مسلمان (چې هغه څه موده مخکښې د يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په لاس مسلمان شوے وو هغه) د اِعتِکاف سعادت حاصل کړو. د سُنَّتو ډکو بيانونو، کيسټ اِجتِماعاتو او د سُنَّتو ډکو حلقو هغه ښه په مَدَني رنګ کښې رنګ کړو، د اِعتِکاف په بَرَکت ئې په زړه کښې د دِين د تبليغ د عظيمې جذبے شمع روښانه شوه. ولې چې د کور نور کسانو ئې لا تر اوسه پورې د کُفر په تورو تِيارو کښې ډغرې خوړلې لِهذا اِعتِکاف نه چې څنګه فارِغ شو نو سمدستې ئې د خپل کور په کسانو باندې کوشش شروع کړو، د دعوتِ اسلامي مُبَلِّغِين ئې خپل کور ته بوتلل او د دوئي په ذريعه ئې ورته د اِسلام دعوت وړاندې کړو. په کور کښې ئې ټول کسان مور و پلار، دوه خويندې او يو ورور وو اَلْحَمْدُ لِلّٰه ټول کور مسلمان شو او په سِلسِلۂ عالِيۂ قادِريه رَضَوِيّه کښې داخل شول او د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُرِيدان جوړ شول.

ولولہ دیں کی تبلیغ کا پاؤ گے　　مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
فضلِ رب سے زمانے پہ چھا جاؤ گے　　مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشش ص 641)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿5﴾ هغه پوخ دُنيا دار وو

د سکهر ښار (سندھ پاکستان) يو اسلامي ورور به هر وخت صرف د دُنياوي دولت ګټلو په فکرونو کښې اخته وو، د عملي دُنيا نه ډير لرې د ګناهونو په تِيارو کښې ئې ډغرې خوړلې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په هغه باندې د بعضې **عاشِقانِ رَسُول** د شَفقَت نظر پريوتو، هغوئي په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې ډير ځله د هغه څنګ ته ورغلل او هغه ته به ئې د اِجتِماعي اِعتِکاف دعوت ورکولو خو

هغه به انکار کولو. **ماشآءالله** هغه **عاشِقانِ رَسُول** ډېر د اوچتې حوصلے خاوندان وو، لکه د مایوسه کیدو نه چې هډو خبر نه وو، چنانچه هغوئي هغه اِسلامي ورور د هغه په هٔغه حال پريښودل نه غوښتل او کله کله به ئې ورته د نيکئ دعوت ورکولو او ثواب به ئې ګټلو! د هغوئي اِنفرادي کوشش آخر پکار راغے او آخر د هغه پوخ دُنيادار کس زړه هم نرم شو او د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (غالِباً 1410هـ- 1990ء) په آخرئ عَشَره کښې هغوئي سره معتکِف شو. په اِعتِکاف کښې هغه ته دا خبره محسوس شوه چې د عاشقانو دُنيا څه بل شان وي! د **عاشِقانِ رَسُول** صُحبت هغه په مَدَنـي رنګ کښې رنګ کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه لـمونځ ګُزاره جوړ شو، ګيره ئې پريښودله او د **عِمامے شريفې** تاج ئې په سر کړو. هلته هغه دا مسئله هم زده کړه چې مخ په قبله يا قِبلے ته شا کړے اودس ماتول حرام دي. کوم جُمات کښې چې اِعتِکاف کيدلو اتفاقاً د هغې د استنجاخانو رُخ هم غلط وو. هغه د رضائے اِلٰهی د پاره سمدستي کاريګران را اُوغوښتل او د خپل جيب نه ئې اخراجات ادا کړل او د استنجاخانو رُخ ئې صحيح کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه اِعتِکاف نه پس تر اوسه پورې ډېر ځله هغه ته **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو زده کولو او ښودلو **مَدَني قَافِلو** کښې د سُنَّتو ډك سفر سعادتونه حاصل شوي دي.

حبِّ دنیا سے دل پاک ہو جائے گا　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
جامِ عشقِ محمد بھی ہاتھ آئے گا　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص641)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴾6﴿ ما هُم د خپل ځان په شان کړئ

د راولپنډئ (پنجاب، پاکستان) يو اسلامي ورور چې کله د لسم کلاس سټوډنټ وو، هغه د خپلې **مَحَلّے** بِلال مَسجِد کښې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د آخرئ عَشَرے اِعتِكاف اوكړو. هلته 14، 15 كسان مُعتَكِف وو، غالِباً په 28 **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د ماسپښين د لـمانځه نه پس د هغه د وړوكوالي

يو کلاس فيلو (چې هغه غريب به د خپل شرافت په وجه د ده د شرارت نه تنګ وو، هغه) تشريف راوړو، شنه عمامه شريفه ئې په سر کړې وه، د سلام دُعا نه پس ئې مُعتَكِفِينو باندې د **اِنفرادي کوشش** کولو په دوران کښې هغوئي نه تپوس اوکړو: په تاسو کښې يو کس مهرباني اوکړئ او **د اختر د لمانځه** طريقه واوروئ، ټولو يو بل ته کتل شروع کړل! بيا هغوئي اُووئيل: ښه صرف د جنازے د لمانځه طريقه اوښائے. دا هُم په هغوئي کښې يو هُم بيان نه کړے شوه. بيا هغه مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په هغوئي باندې د لمانځه مشق (يعني عملي طريقه) اوکړه. دغسې د هغوئي ډيرې غَلَطئ مخې ته راغلې. د هغې نه پس مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په ډير زيات ښه انداز هغوئي ته د اختر د لمانځه او د جنازے د لمانځه طريقه اُوښودله. په دې د هغوئي زړونه ډير خوشحاله شُو. هغه اسلامي ورور وائي: "رښتيا خبره دا ده چې مونږ ته د اِعتِكاف نه کوم اَهم څيز حاصل شو نو هغه دا چې د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په بَرَکت مونږ ته د مختلفو لمونځونو اَهم اَحکامات زده کول نصيب شُو." د اختر په لمانځه کښې هغه [نوي اسلامي ورور] د جُمات په دويم چت ځائے اوموندلو، چې کله اِمام صاحب دويم تکبير اُووئيلو نو د هغه اِسلامي ورور نه علاوه تقريباً ټول په رُکوع کښې لاړل! دا د رُکُوع موقع نه وه بلکه په دې کښې لاسونه غوږونو ته پورته کولو نه پس زوړندول وو. که هغه د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي نه په اِعتِکاف کښې **د اختر د لمانځه طريقه** نه وے زده کړې نو هغه به هُم عوامو سره په رُکوع کښې تلے وے، په دې موقع باندې د هغه په زړه کښې ډير احساس پيدا شو او د دعوتِ اسلامي په اَهَمِّيَّت ډير ښه پوهه شو. هغه، هغه مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي ته د اختر د مُلاقات په دوران کښې عرض اوکړو چې ما هم د خپل ځان په شان کړئ. په دې باندې مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د هغه حوصله افزائي اوکړه. اَلْحَمْدُلِله آخر دا چې د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د **اِنفرادي کوشش** په بَرَکت هغه د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** ديني ماحول ته راغلو او د دعوتِ اسلامي د دِيني کارونو په لحاظ تنظيمي طور د **شُعبهٔ تعليم علاقائي ذِمَّه دار** هُم جوړ شو.

ہاں جنازہ و عید اس کو سیکھیں مزید　　　آئیں مسجد چلیں کیجئے اعتکاف

خوب نیکی کا جذبہ ملے گا جناب　　　آپ ہمت کریں کیجئے اعتکاف

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿7﴾ سترګو کښې ئې اوښکې راغلې!

د جِناح آباد (کراچئ) يو اِسلامي ورور د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (غالِباً 1425هـ- 2004ء) په آخرئ عَشَره کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** کښې د **اِجتِماعي اِعتِکاف** د بَرَکتونو حاصلولو سعادت حاصل کړو او ګناهونو نه ئې توبه اوکړه، د سُنَّت مطابق به ئې خوراك هُم نه شو کولے، په اِعتِکاف کښې د نورو سُنَّتو نه علاوه د خوراك ښنباك سُنَّت هم ښودلے شو. بِالخُصُوص يو مُبَلِّغ ئې چې په سادګئ سره د سُنَّت مطابق طعام خوړلو باندې اوليدو نو په سترګو کښې ئې بے اختياره اوښکې راغلې! او هغه هُم د سُنَّت مطابق د طعام خوړلو عادت جوړ کړو، او دغسې هغه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامِل شو.

سُنّتیں کھانا کھانے کی تم جان لو　　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
مان لو بات اب مری مان لو　　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص 641)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿8﴾ د عاشِقانِ رَسُول مهربانئ بچ کړو

د اِندَور (M.P اَلهِند) يو فيشني ځلمي د لوفرو او ماډرنو دوستانو په صُحبت کښې د ګُناهونو ډك ژوند تيرولو. د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (1425هـ- 2004ء) په آخرئ عَشَره کښې عاشقان رسول سره **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې کښيناستلو. د **عاشِقانِ رَسُول د مهربانئ** انداز [د ګُناهونو نه] **خلاص کړو**، د ګُناهونو نه د **توبه** کولو سعادت ورنصيب شو، ګيره مبارکه ئې پريښودله، عِمامه شريفه ئې په سر

کړه، په زړه کښې ئې د سُنَّتو د خِدمت ډېره جذبه پيدا شوه تر دې چې **مُبَلِّغ** جوړ شو. د دې ليکلو په وخت د علاقائي مُشاورت د نګران په حيثيت د سُنَّتو بَرَکتونه پخپله هُم حاصلوي او نورو ته ئې هُم عام کوي.

لینے خیرات تم رحمتوں کی چلو    مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
لوٹنے بر کتیں سنتوں کی چلو    مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص 641)

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب!    صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿9﴾ د غير اسلامي نظرياتو لرونکو توبه

دغسې خو د سکّهر (سنده) نزدې ښار جيکب آباد ته د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** مَدَنـي پيغام رارسيدلے وو، خو په هغه ورځو کښې هلته **دِيني کار** ډېر کم وو. **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (1410هـ. 1990ء) کښې د سکّهر اِسلامي ورونـو جيکب آباد کښې ښه ډېر **اِنفرادي کوشش** اوکړو او د هغه ځائے اِسلامي ورونـو ته ئې د اِجتِماعي اِعتِکاف د پاره سکّهر ته د راتللو دعوت ورکړو، د هغې په بَرَکت د جيکب آباد ډېرو اِسلامي ورونـو **مُنَوَّره مسجِد**، سټيشن روډ، سکّهر کښې د اِعتِکاف سعادت حاصل کړو. دې نه مخکښې جيکب آباد کښې د فيضانِ سُنَّت درس ورکوونکے يو اِسلامي ورور هُم نه وو! اَلْحَمْدُلِلّٰه په هغه **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبت په بَرَکت 17 اِسلامي ورونـه مُعَلِّم [يعني درس ورکوونکي] او مُبَلِّغ [يعني بيان کوونکي] جوړ شول، ګيرې مبارکې ئې پريښودې او عِمامے شريفې ئې په سر کړې او د دعوتِ اسلامي د دِيني کارونو ذِمَّه داران جوړ شول. بعضې داسې خلق ئې هم په کوشش سره راوستي وو چې هغوئي د غير مُسلمو بعض نظريات صحيح ګڼـل، اَلْحَمْدُلِلّٰه هغوئي د خپلو کُفريه نظرياتو نه توبه اوکړه، کَلِمه ئې اُووئيله او مسلمانان شول او باقي ژوند ئې د عاشقانِ

رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي ديني ماحول** كښې د تيرولو نِيَّت اوكړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه د هغه ښار اِسلامي وروڼـه كومو چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك (1410ھ) كښې د **اِجتِماعي اِعتِكاف** بَرَكتونه حاصل كړي وو او كومو چې بے دينئ نه توبه كړې وه اوس بهترين مُبَلِّغِين جوړ شوي دي تر دې چې په غټو غټو اِجتِماعاتو كښې هُم د سُنَّتو ډك بيانونه كوي او د مختلِفو صوبائي مَجالِسو ذِمَّه داران جوړ شوي دي او د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح كوشش كوي. **الله** تعالیٰ دې مونږ. ته او هغوئي ته د دعوتِ اسلامي **ديني ماحول** كښې اِستِقامت راكړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى الله تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

پیارے اسلامی بھائی چلے آؤ تم | مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
خالی دامن مرادوں سے بھر جاؤ تم | مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشش ص 641)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿10﴾ اوس مې سر غوخيدے شي خو ...

د كورنګي نمبر 6 كراچئ يو اِسلامي ورور خپل د 26 كالو كشر ورور چې هغه به كيره خرئيله په هغه باندې ئې **اِنفرادي كوشش** اوكړو او د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** عالَمي مَدَني مركز **فيضانِ مدينه** كښې ئې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك (1421ھ. 2000ء) په آخرئ عشره كښې په **اِجتِماعي اِعتِكاف** كښې كښينولو. په هغه بيلمانځه او د سنَّتو نه ډير ډير لرې ورور باندې ئې په اِعتِكاف كښې د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبَتِ بابَرَكت هغه مدني اثر اوشو چې اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه پينځه وخته لـمونځ گُزاره جوړ شو او كيره مباركه ئې پريښوده او د دې حده پورې مَدَنـي ذِهن ئې جوړ شو چې [وائي:] اوس مې سر غوخيدے شي خو كيره مې نه شي كټ كيدے.

میٹھے آقا کی الفت کا جذبہ ملے | مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
داڑھی رکھنے کی سنت کا جذبہ ملے | مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص 641)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿11﴾ د مِرګي مرض ختم شو

د بمبئ تَحصِيل کُرلا (اَلهِند) کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** له طرفه رَمَضَانُ **الْمُبَارَك** (1426هـ. 2005ء) کښې کيدونکي **اِجتِماعي اِعتِكاف** کښې يو داسې اِسلامي ورور هُم مُعتَكِف شو چې په هغه به هره دويمه ورځ د مِرګي دوره راتلله. اَلْحَمْدُلِلّٰه د اِعتِكاف په دوران کښې په هغه يو ځل هُم دوره رانغله بلکه اَلْحَمْدُلِلّٰه د دې لِيك د وخته يعني د نن ورځې پورې په هغه باندې بيا هډو د مِرګي تکليف راغلے نه دے.

ان شاء اللہ ہر کام ہو گا بھلا　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
دور ہو گی بفضلِ خدا ہر بلا　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص 641.642)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونـو! تاسو اوليده چې عاشقان رسول سره د اِعتِکاف کولو په بَرَکت اَلْحَمْدُلِلّٰه آفتونه او مصيبتونه لرې کيږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مِرګي مرض ئې هم بنه شو. چې په هغه باندې جُمات کښې هډو دوره رانغله، يقيناً دا پرې د **الله تعالٰی** خصوصی کرم اوشو. خو بيا هُم دا مسئله ياده ساتئ چې د مِرګي داسې مريض او په چا چې پيريان وي او پورته پورته لګې يا چغې او سُورې وهي يا داسې مريضان چې په بيهوشئ کښې ترينه متيازې وغيره اُوځي او داسې ټول کسان چې خلق ترينه کَرَکه کوي، خلقو ته ترينه تکليف رسي نو د هغوئي اِعتِکاف خو لرې خبره ده بلکه په داسې حالت کښې ئې د جَمعې لـمانځه د پاره جمات ته راتلل هُم جائز نه دي.

## ﴿12﴾ کِيره به ئې خرئيله

د **نصير آباد** (سندھ) يو اِسلامي ورور به **ګيره خرئيله**، د ژوند ورځې شپې ئې په غفلت کښې تيريدل. د اِسلامي ورونـو په ترغيب او د ښه ډير **اِنفرادي کوشش** په نتيجه کښې، هغه په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (1425ھ. 2004ء) کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي، ديني ماحول** کښې عاشقان رسول سره په **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې د کښيناستلو سعادت حاصل کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه په اِعتِکاف کښې ئې په زړه ډير اثر اوشو، په خپلو تيرو ګناهونو پښيمانه شو او ډير ئې اوژړل او آئنده د پاره ئې هميشه هميشه ګناهونو نه د بچ کيدو پخه اِراده اوکړه، د عِمامے شريفې تاج ئې په سر کړو، ګيره ئې پريښودله. اَلْحَمْدُلِلّٰه د **دعوتِ اسلامي** د تنظيمي ډويژن نصير آباد د يو تحصيل مُشاورت نګران هُم جوړ شو.

سیکھنے کو ملیں گی تمہیں سنّتیں — مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
لوٹ لو آکر اللہ کی رحمتیں — مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص642)

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿13﴾ ځان سره به ئې بنګ بنګ کښې فلمي سندرې وئيلې

د ډرګ روډ (کراچئ) تقريباً د 25 کالو اِسلامي ورور د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** عالمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** کښې **عاشِقانِ رَسُول** سره د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د آخرئ عَشَرے د اِعتِکاف کولو سعادت حاصل کړو. هغه ته د اِعتِکاف ډير زيات بَرَکتونه حاصل شو، ورسره ورسره په لاره روان روان د بازاري هلکانو په شان د فِلمي سندرو وئيلو ئې چې کوم عادت وو هغه هُم ختم شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه د هغې په ځائے ئې د نعت شريف وئيلو عادت جوړ شو. د دې نه علاوه د ژبې قفلِ مدينه لګولو (يعني بدې خو بدې بلکه د غير ضروري خبرو نه د بچ کيدو) ذِهن ئې هُم جوړ شو او داسې ذِهن ئې جوړ شو چې ځنګه به ئې د خُلې نه فُضُول خبره وتله نو فوراً به ئې په ژبه دُرُود شريف جاري شو.

گیت گانے کی عادت نکل جائے گی — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
بے حجابی کی خصلت بھی ٹل جائے گی — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص642)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿14﴾ ماډرن ځلمي ترقّي کوله کوله---

بمبئ (بائیکله، اَلهند) کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** له طرفه د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (1419هـ. 1998ء) په آخرئ عَشَره کښې کيدونکي **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې يو ماډرن [يعني فيشني] ځلمي (اليکټرانك انجينئر) شرکت اوکړو. لسو ورځو پورې ئې د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبتونو ښه بَرَکتونه حاصل کړل، د مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت نښه ګيره مبارکه ئې پريښودله، د عِمامے تاج ئې په سر کړو، د اِعتِکاف بَرَکتونو هغه عظيم مُبَلِّغ جوړ کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دين په خدمتونو کښې ئې ترقي کوله کوله د دې ليك د وخته پورې د هِند مکّي کابينه د رُکن په حيثِيَّت د سُنَّتو د سپرلو خورولو د پاره کوشش کوي.

ساری فیشن کی مستی اتر جائے گی — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
زندگی سنتوں سے نکھر جائے گی — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص642)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿15﴾ نشه ئې خنګه پريښوده!

د حيدر آباد سندھ پاکستان يو اسلامي ورور بيلمانځه او نشئ وو، د هغه په وجه د کور کسان پريشانه وو. خوش قِسمتئ سره د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** د درې ورځو سُنَّتو ډکه اِجتِماع (صحرائے مدينه، ملتان) کښې ئې (په سن 1426هـ. 2005ء) کښې د حاضرئ

سعادت حاصل کړو، هلته ئې د اِعتِکاف نِيَّت اوکړو او چې وخت راغے نو کراچئ ته راغلو او په عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** کښې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (1426هـ. 2005ء) په آخرئ عَشَره کښې مُعتَکِف شو. د درې ورځو اِجتِماع (مُلتان شريف) کښې ئې اګر چې د آخرت د بهترئ مُتَعَلِّق کافي ذِهن جوړ شوے وو خو د **اِجتِماعي اِعتِکاف** به څه وائي! بس د هغه د زړه دُنيا بدله شوه، ګُناهونو نه ئې توبه اوکړه او ګيره مبارکه ئې پريښودله، سمدستي ئې عِمامه شريف په سر کړه. اِعتِکاف نه پس چې حيدر آباد ته اورسيدلو او د کور کسانو او ګاونډيانو وغيره په ګيره او عمامه شريف کښې اوليدو نو ټول حيران پاتې شول! اَلْحَمْدُلِلّٰه د هغه د نشے عادت بالکل ختم شو. د خپل وَس مناسب ئې د دعوتِ اسلامي دِيني کار شروع کړو، د **اللّٰه** تعالٰی په فضل لُور ئې د **دعوتِ اسلامي** په **جامِعَةُ الْمدِينه** کښې په شريعت کورس کښې داخله واخسته او دوه ماشومانو بچو ئې په مَدرَسةُ الْمَدينه کښې د قُرآنِ پاك حِفظ شروع کړو.

گر مدینے کا غم چشمِ نم چاہیے | مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
مدنی آقا کی نظرِ کرم چاہیے | مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشش ص642)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿16﴾ دا اِعتِکاف څه ته وائي!

د **ډيره الله يار** (بلوچستان، پاکستان) يو اسلامي ورور به د ګناهونو نه ډك بدمسته ژوند تيرولو. د **اللّٰه** پاك ډير لوئے احسان اوشو چې د هغوئي په ښار کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** دِيني کار شروع شو او (هلته په 1416هـ. 1995ء کښې) وړومبي ځل د **دعوتِ اسلامي** د **شَبِ بَراءَت** عظيم الشّانه اِجتِماع اوشوه، اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه هم پکښې شرکت اوکړو. په اِجتِماع کښې د **عاشِقانِ رَسُول** ګيرو، عمامو او مَحَبَّت سره ملاقاتونو هغه د دعوتِ اسلامي نه ضرور مُتأَثِّره کړو خو بيا هم لرې لرې اوسيدو، په هفته واره اِجتِماع کښې ئې هُم کله شرکت نه وو

کړے تر دي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك (1416ھ. 1995ء) ووه **وِيشتمه شپه** راغله، هغه د اِجتِماع والا جُمات کښې کيدونکې اِجتِماعي دُعا کښې حاضِر شو، آخره کښې ئې اِسلامي ورونړو سره ملاقات اوکړو، چا ورته اووئيل چې دلته څه اسلامي ورونړه په اِعتِکاف کښې ناست دي. د هغه د پاره دا لفظ نوے وو، ځکه حيران شو او اوئې وئيل چې **دا اِعتِکاف څه ته وائي؟** اِسلامي ورونړو ورته په ډيره مِينه د اِعتِکاف په باره کښې معلومات ورکړل او **د اِعتِکاف يو څو مَدَني سپرلي** ئې ورته بيان کړل. د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې کيدونکې اِعتِکاف احوال ئې چې واوريدو نو په زړه کښې ئې پوخ نِيَّت اوکړو چې اِنْ شَآءَاللّٰه راروان کال به اِعتِکاف کښې ضرور کښينم. چنانچه ورځې تيريدلې تيريدلې او چې کله (د 1417ھ) رَمَضَانُ الْمُبَارَك راغے نو په آخرئ عَشَره کښې عاشقان رسول سره هغه هم مُعتَکِف شو. لس ورځې او شپې ئې د **عاشِقانِ رَسُول** په صُحبت کښې ډير څه زده کړل. ؎

نه پوچھو ہم کہاں پہنچے اور ان آنکھوں نے کیا دیکھا
جہاں پہنچے وہاں پہنچے جو دیکھا دل کے اندر ہے

په اِعتِکاف کښې چا د درسِ نَظامي کولو سوچ ورکړو، خبره ئې زړه ته پريوتله چنانچه کراچئ ته راغلو او **جامِعَةُ الْمدِينه** کښې ئې داخله واخسته تر دي چې دورهٔ حديث شريف نه پس ئې د دعوتِ اسلامي په عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** کښې (1425ھ. 2004ء کښې) دَستار بندي اوشوه. او د دعوتِ اسلامي **جامِعَةُ الْمدِينه** حيدر آباد کښې ورته د تدريس [يعني اُستاذئ] کولو سعادت هُم حاصل شو.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! يو داسې هلك چې هغه ته دا هُم نه وه معلومه چې **اِعتِکاف څه ته وائي!** هغه عاشقان رسول سره د اِعتِکاف په بَرَکت د درسِ نظامي کولو سعادت حاصل کړو او مُدَرِّس [يعني اُستاذ] جوړ شو او نورو ته د عِلم دِين بَرَکتونه ورکوي.

سنتيں سيکھ لو رحمتيں لوٹ لو      مدنی ماحول ميں کر لو تم اعتکاف

دین کے علم کی برکتیں لوٹ لو　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وسائلِ بخشش ص642)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! 　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿17﴾ هغه به غلاګاني هُم كولې

د كراچۍ يو اِسلامي ورور به د دعوتِ اسلامي خوشبودار **ديني ماحول** كښې شامليدو نه مخكښې مَعَاذَالله په لـمونځونو كښې سستي كوله، د وِډيو ګيمونو شوقي وو، په تي وي باندې به ئې هره ورځ غلط پروګرامونه كتل، د دروغو وئيلو عادت ئې وو، تر دې پورې چې غلاګاني به ئې هم كولې. خوش قسمتۍ سره ورته په جامِع مسجِد آمِنه (شكيل ګارډن، اوكهائي كمپليكس، كراچۍ) كښې د **دعوتِ اسلامي** عاشقان رسول سره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك (1421هـ. 2000ء) د آخرۍ عَشَرے د **اِجتِماعي اِعتِكاف** سعادت حاصل شو. بيا ئې د آمِنه مسجِد په دويم منزِل كښې د دعوتِ اسلامي قائمه كړې مَدرَسةُالْمَدِينه كښې داخله واخسته. اَلْحَمْدُلِلّٰه عالَمي مَدَني مركز **فيضانِ مدينه** كښې به ئې هفته واره اِجتِماع كښې شركت هُم كولو او اَلْحَمْدُلِلّٰه د هغه په كوششونو د هغه په كور كښې **ديني ماحول** جوړ شو. هغه به كور كښې د مَكْتَبَةُالْمَدِينه نه جاري شوو د سُنَّتو ډكو بيانونو كيسټې چلولې. اَلْحَمْدُلِلّٰه قُرآنِ پاك حِفظ كولو نه پس ئې په **جامِعَةُ الْمدِينه** كښې درسِ نِظامي شروع كړو او په مَدرَسةُالْمَدِينه كښې ئې د تدريس [يعني اُستاذۍ] تركيب هم كولو او د خپل ذيلي مُشاورت د نګران ماتحت ئې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** د دِيني كارونو كولو كوشش هم كولو.

تم گناہوں سے اپنے جو بیزار ہو　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
تم پہ فضلِ خدا لطفِ سرکار ہو　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وسائلِ بخشش ص642)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! 　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فرمانِ آخري نبي ﷺ

مَنِ اعْتَكَفَ اِيْمَانًا وَّاِحْتِسَابًا غُفِرَلَهٗ

مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ

يعنې چا چې د ايمان سره او د ثواب

حاصلولو په نِيَّت اعتكاف اوكړو، د هغه

تير شوي گناهونه به اُوبخښلے شي.

(جامع صغير، ص 516، حديث: 8480)

فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (كراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com